الله - جل جلاله- فرمايلي: څوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، زما د هغه سره د جګړې اعلان دی، او زما بنده ما ته په هېڅ شي دومره نه نږدې کېږي چې زه يې خوښ ګڼم لکه څومره چې ماته د هغه څه په کولو سره رانږدې کېږي چې ما پرې فرض کړي دي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله وفرمايل: «الله – جل جلاله- فرمايلي: څوک چې زما له دوست سره دښمني وکړي، زما د هغه سره د جګړې اعلان دی، او زما بنده ما ته په هېڅ شي دومره نه نږدې کېږي چې زه يې خوښ ګڼم لکه څومره چې ماته د هغه څه په کولو سره رانږدې کېږي چې ما پرې فرض کړي دي، او زما بنده په نفلونو سره ما ته دومره نږدې کېږي تر دې چې زه ورسره مينه وکړم، نو کله چې ورسره مينه وکړم: زه به د هغه لپاره د غوږ حيثيت ولرم چې اورېدل پرې کوي، د هغه لپاره به د سترګې حيثيت ولرم چې کتل پرې کوي، د هغه لپاره به د لاس حيثيت ولرم چې رانيول پرې کوي او د هغه لپاره به د پښې حيثيت ولرم چې ګرځېدل پرې کوي، او که هغه زما څخه څه وغواړي زه به يې ورکړم، او که هغه زما څخه د پناه غوښتنه وکړي، زه به هغه ته پناه ورکړم».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

په قدسي حديث کې، رسول الله فرمايلي چې الله تعالى فرمايلي: «مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ...» يعني: "څوک چې زما له اولياوو څخه د يوه سره دښمني وکړي، غصه يې کړي او يا بد وګڼي، نو ما پوه کړی او دښمني مې ورسره اعلان کړې ده. او ولي : مؤمن او پرهېزګار وي، او په څومره اندازه چې بنده له ايمان او تقوا څخه برخمن وي، په همغومره اندازه د الله تعالى له ولايت څخه برخمن وي، او په بل هېڅ شي مسلمان خپل رب ته دومره نه شي نږدې کېدلى، لکه څومره چې - د هغو واجبو اطاعتونو په تر سره کولو او د محرماتو په پرېښودلو سره - ورته نږدې کېږي او بنده تر هغه پورې خپل رب ته د فرايضو تر څنګ د نوافلو په ادا کولو سره نږدې کېږي چې د الله تعالى له محبت څخه برخمن شي. نو کله چې ورسره الله محبت وکړي، نو پدې څلور واړو اندامو په عمل کولو کې توفيق ورکوي (چې د هغه د غوښتنې سره سم يې وکاروي): په اورېدلو کې توفيق ورکوي، نو هغه څه به اوري چې الله پرې راضي کېږی. په لېدلو کې توفيق ورکوي، نو يوازې هغه څه ته به ګوري چې الله يې خوښوي او پرې راضي کېږي. د لاسونو په کارولو کې توفيق ورکوي، نو په لاسونو به يوازې هغه کار کوي چې الله پرې راضي کېږي. او د پښو په کارولو کې توفيق ورکوي، نو يوازې هغه ځای ته به ځي چې الله يې خوښوي او يوازې هغه ځای ته به هڅه کوي چې خبر پکې وي. او له دې سره ببره که له الله جل جلاله څخه د کوم شي سوال وکړي، نو الله به يې غوښتنه ومني، او پدې سره به هغه څوک شي چې دعا يې قبلېږي، او که په الله جل جلاله پناه وغواړي او هغه ته د ملاتړ په موخه پنا يوسي، نو الله پاک به پناه ورکړي او د هغه څه په وړاندې به يې ملاتړ وکړي چې وېره تري لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66534